# آیا تاسو تقاعد اخلی او کار هم کوی؟



We speak your language ☎ 13 1202

*Are you receiving a pension and working?* - **Pushto**

د محاسبی لپاره چی څومره تقاعدی تاسو ته ورکو، نوکله چی څه بدلولونه ستاسو په حالت کی را منځته کیږی د هغی پوهیدل مونږ ته ضروری دی.

په یادولری چی:

- که تاسو یا ستاسود ژوند شریک کارکول پیل یا بند کړ موږ ته یی ووایی
- خپل **ناخالص** عاید موږته ووایی. داعاید پخوانددی چی مالیه او نور کسرات تری وضع شي دی
- که ستاسو د کارپه ساعتونو کی بدلون راغی موږ ته یی ووایی
- که ستاسو عاید لوړ لاړ یا زیات شو د 14 ورځو دننه موده کی یی موږ ته ووایی
- که ستاسو عاید مخ په کمیدو شو فوراً یی موږ ته ووایی. شاید تاسو د یو څه پنشن پیسواخیستلو مستحق وګڼل شی
- د کارفرما نه دخپل یو ساعته معاش داندازی د ځینو جریمو یا اضافه کاری او نورهرډول مساعدتونو په هکله پوښتنه وکړه
- موږ ته د خپل معاش د استحقاق جدول فراهم کړه، **او**
- که ته او ستاسو د ژوندانه شریک د یوه نه زیات کارفرما ولری، موږ ته د خپل هر یو کارفرما نه دعاید ترلاسه کولو اندازه ووایی.

که تاسو اوستاسو دژوندانه شریک موږ ته د لازمی بدلون نه ونه وایی  دهغه نتیجه به داشي چی:

- ستاسو تأدیات به بند اویا به معطل شي، **او / یا**
- هغه پیسی موچی اضافه اخیستی دی تاسو نه به وغوښتل چی هغه بیرته ورکړی، **او / یا**
- په ځینو حالاتو کی به اضافی جریمه فیس هم ورکړی.

د Centrelink سره په پښتو ژبه کی دخبروکولولپاره **13 1202*** نمبر تلیفون ته زنګ ووهی.
همدارنګه ستاسو په ژبه کی معلومات **www.centrelink.gov.au** په ویب سایت کی میندلای شی.

* *"13" نمبروتلیفون ته د آسترالیا د هرځاې نه د عادي تلیفون خدمت له لارې چې دسیمه ایز تلیفون د بیې نه زیات ندې نلیفون کولاې شی (البته د تلیفون کولو بیه د تلیفون شبکې پورې چې دا خدمت برابروي مربوط دې). تلیفون کول "1800" نمبر تلیفون ته وړیا دې. د عامه تلیفون او موبایل تلیفونو نه تلیفون کولو بیه به یو څه لوړوي.*

www.centrelink.gov.au

Australian Government

Centrelink
giving you options